# زما په نړۍ کې زما کور (لومړۍ درجه)

| | |
|---|---|
| **توضیحات** | په لویه نړۍ کې به زده کوونکي خپل کور په جغرافیي شکل سره پیدا کړي. دوی به په تدریجي توګه خپل کور په شمسي نظام کې زوم کړي ترڅو خپل یو فلیپ بوک طرح ډیزاین کړي. |
| **مخکښه پوښتنه** | آیا تاسو خپل کور په کایناتو کې رسم کولی شی؟ |
| **ټولټال اړین وخت** | په ۵ ورځو کې ۵ ساعته |
| **د اړتیا وړ توکي** | ورقه، پنسل، رنګونه او داسې نور |
| **د زده کړې پایلې** | 1. د فاصله (مساحت) او اندازې مفهومونه<br>2. د یو شخص د فاصلې په اړه لویه نړۍ کې پوهیدل<br>3. د ځایونو تشریحي ځانګړتیاوي په شمول د طبیعي ځانګړني، خصوصیتونه، نفوس (وګړي)، تاریخي ځایونه او داسې نور |
| **پخواني درسونه** | د خپل ښار، هیواد، قارې او داسې نورو په اړه لومړني معلومات |

## لومړۍ ورځ

نن ورځ به تاسو خپل کور او سړک په اړه معلومات ترلاسه کړی.

| **وړاندیز شوی وخت** | **فعالیت او توضیحات** |
|---|---|
| **۳۰ دقیقې** | • لومړۍ صفحه: خپل کور رسم کړئ. داسې یوه ورقه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی یې ۱۰ سانتي متر وي.<br>• لاندې پوښتنې وکړئ:<br>• له بهر څخه ستاسو کور څنګه ښکاري؟ آیا دا په یوه بلډینګ کې دی؟ ستاسو کور څو منزله (طبقې/پوړه) لري؟ تاسو په کوم پوړ (طبقه) کې اوسیږئ؟ ستاسو په کور کې څو وګړي دي؟ آیا تاسو کولی شی هغوی په کړکیو یا دروازو کې رسم کړی؟ ستاسو کور کوم رنګ لري؟ آیا ستاسو کور پوړۍ (زینې) لري؟ ستاسو د کور دروازه څه رنګ ده؟ |

| | |
|---|---|
| لومړۍ صفحې ته یو نوم غوره کړئ او د خپل کور په اړه یو څو جملې ولیکئ: دا د احمد کور دی. زما کور () شمیر وګړي او () شمیر حیوانات لري. زموږ د کور بیلډینګ () منزله لري او موږ په () منزل کې اوسیږو. همدا راز زموږ د کور رنګ () دی.<br>***د سواد زده کوونې توسعه:*** خپل کور د لا ډیرو جزئیاتو په ورکولو سره تشریح کړئ. تاسو کولی شی خپل کور ته د ننوتلو لار، یا خپل کور د یوه شکل په حیث تشریح کړی او داسې نور. | |
| • دوهمه صفحه: د لومړۍ صفحې څخه یو څه اندازه لویه صفحه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی یې ۱۲ سانتي متره واوسي.<br>• هغه سړک چې ستاسو کور ته تللی دی، رسم کړئ. کلکه چې سړک رسم کوی نو خپل کور هم پرې رسم کړئ.<br>• لاندې پوښتنې ترسره کړئ: په هغه سړک باندې نور کور شیان شتون لري؟ آیا په همدغه سړک باندې نور کورونه یا بیلډینګونه شتون لري؟ نور کورونه څه رنګ ښکاري؟ په سړک باندې کومې نښې شتون لري؟ آیا په همدغه سړک باندې د کوم عبادت ځای، ښوونځی او یا داسې نور ځایونه شته؟<br>• دوهمې صفحې ته یو نوم غوره کړئ او یو څو جملې پرې ولیکئ: دا دا (.....) کور دی چې په (.......) سړک باندې موقعیت لري. زموږ د کور سړک نور ځایونه هم لري لکه (.........). د سړک په اړه نور توضیحات هم ورکړئ. د بیلګې په توګه: دا یو پر ازدهامه/مصروف/خالي او یا زرغون سړک دی. تاسو کولی شی نور توصیفي کلمات د سړک د توضیح لپاره ولیکی.<br>• د سواد زده کړې توسعه: خپل د کور سړک یا کوڅه کولی شی د لا ډیرو جزئیاتو سره تشریح کړی. تاسو کولی شی دا وواياست چې خلک څنګه سړک ته راښکته کیږي او څنګه له یو ځای څخه بل ځای ته حرکت کوی. د بیلګې په توګه د بس په واسطه، ټکسي، پیاده او داسې نور. | **۳۰ دقیقې** |
| | |

## دوهمه ورځ

نن به تاسو د خپلې منطقې/کلي/ښار او یا هم ایالت، ولایت او یا هم ولسوالۍ په اړه پوهه ترلاسه کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| | دریمه صفحه: یوه لویه صفحه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی یې ۱۵ سانتي متره واوسي.<br>هغه کلی یا ښار رسم کړئ چې ستاسو د کور سړک پکې موجود دی.<br>لاندې پوښتنې ترسره کړئ: ستاسو کلی یا ښار څومره ګڼه ګوڼه لري؟ - که چیرته ستاسو په کلي یا ښار کې دیر خلک واوسي، نو هغوی رسم کړئ. آیا ستاسو په کلي یا ښار کې د پام وړ کوم ځایونه شتون لري؟ د بیلګې په توګه: یو تاریخي ځای، یو طبیعي ځای (لکه، یو ډنډ، تپه، غر، ساحل، پارک، دښته) او یا کوم اړین د لیدلو ځای.<br>ستاسو د خوښې ځایونه کوم دي؟ |

| | |
|---|---|
| | دریيمې صفحې ته یو نوم غوره کړئ او د خپل کلي یا ښار په اړه یو څو جملې پرې ولیکئ: دا د (.......) کور دی چې په (.........) سړک او (.......) کلي یا ښار کې یې موقعیت دی. د هغه شیانو په اړه تشریح ورکړئ چې ستاسو کلی یا ښار پرې مشهور دی (لکه، طبیعي ځانګړتیاوي، اړین ځایونه، تاریخي ځایونه او داسې نور) او تاسو داسې کوم کار ترسره کوی چې د هغه څخه تاسو خوند اخلی؟ د بیلګې په توګه: زموږ په کلي/ښار کې یو لوی د اوبو ډنډ دی چې موږ ورته د (......) ډنډ وایو. په دوبې کې زما ډیر خوښیږي چې لامبو ووهم.<br>د سواد زده کووني وسعت: د لاندې موضوعاتو په اړه یو څو جملې ولیکئ:<br>ستاسو کلی/ښار څومره لرې دی؟ خلک ولې ستاسو کلي/ښار ته سفر کوي؟ ستاسو کلی/ښار څومره ګڼه ګوڼه لري؟ او ډیر خلک ستاسو په کلي/ښار کې په کومو کارونو بوخت دي؟ |
| ۳۰ دقیقې | څلورمه صفحه: یو څه لویه ورقه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی یې ۱۷ سانتي متره واوسي. هغه ولایت رسم کړئ چې ستاسو کلی/ښار په کې موقعیت لري. په همدغه ولایت کې خپل کور رسم کړئ. کله چې تاسو خپل کور رسم کوی، باید په دې پوه شی چې ستاسو کور د ولایت په کوم لور کې شتون لري.<br>لاندې پوښتنې ترسره کړئ: په دې ولایت کې کومې مهمې/اړینې طبیعي یا جغرافیایي ځانګړتیاوې شته؟ (لکه: غرونه، تپې، سیند، دښته او داسې نور.) آیا په همدغه ولایت کې نور ښارونه یا کلې شتون لري چې تاسو وکولای شی د خپل کلي یا ښار سره یې نیږدې په نښه کړی؟ آیا ستاسو په ولایت کې کوم ځانګړي محصولات کیږي؟ آیا کولی شی هغه محصولات رسم کړئ؟ آیا ستاسو په ولایت کې کومې ځانګړې جامې شتون لري چې ډیری خلک یې اغوندي؟<br>څلورمې صفحې ته نوم غوره کړئ او د خپل ولایت په اړه یو څو جملې پرې ولیکئ: دا د (......) کور دی چې په (.....) سړک او په (.........) ولایت کې موقعیت لري. د ۱ – ۳ پورې د خپل ولایت ځانګړتیاوې په توضیحي ډول سره ولیکئ چې په هغو کې د خپل د خوښې خواړه، ژبه او یا جامې ځای پر ځای کړئ.<br>د سواد زده کووني توسعه: خپل ولایت په لا ډیرو جزئیاتو سره تشریح کړئ. د بیلګې په توګه: په دې ولایت کې خلک په کومو کارونو بوخت دي؟ په دې ولایت کې کوم شیان کرل کیږي یا محصولات یې څه دي؟ خلک ولې دې ولایت ته سفر کوي؟ ددې ولایت مشر (رهبر) څوک دی او داسې نور؟ |

## دریمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپل هیواد او قارې (لوې وچې) په اړه پوهه ترلاسه کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې | پینځمه صفحه: یو څه لویه صفحه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی یې ۲۰ سانتي متره واوسي.<br>• هغه هیواد رسم کړئ چې ستاسو ولایت په کې موقعیت لري. د خپل کور او ولایت موقعیت په دې هیواد کې معلوم کړئ. لاندې پوښتنې ترسره کړئ:<br>ستاسو هیواد څومره ګڼه ګوڼه لري؟ که چیرته ډیره ګڼه ګوڼه لري، رسم یې کړئ. آیا ستاسو په هیواد کې کوم داسې حیوان (ژوی)/نبات یا کوم بل شی شته چې ستاسو هیواد پرې شهرت لري؟ آیا تاسو کولی شی هغه رسم کړی؟ آیا کومې د پام وړ ملي تاریخي ځایونه یا آثار شته چې باید یادوونه ترې وشي؟ دبیلګې په توګه: کوم تاریخي ځای، طبیعي ځانګړنه (لکه کوم لوی ډنډ، سنید، غر، ساحل، باغ او داسې نور) او یا کوم د پام وړ د |

| | |
|---|---|
| | ليدلو ځای. ستاسو په هيواد کې ملي جامې، خواړه او داسې نور څه شته دي چې د پام وړ واوسي؟ آيا تاسو کولی شی هغه رسم کړی؟<br>لاربښوونه: که چيرته تاسو د خپل هيواد په شکل نه پوهيږی، تاسو کولی شی خپل د خوښې يو شکل رسم کړی. د بيلګې په توګه، تاسو کولی شی يو دايره، مثلث، مستطيل شکل او يا کوم بل شکل رسم کړی.<br>پينځمې صفحې ته يو نوم غوره کړئ او د خپل هيواد په اړه يو څو جملې پرې وليکئ: دا د (......) کور دی چې په (........) (...........) کلي/ښار او (...........) هيواد کې موقعيت لري. د خپل هيواد په اړ ۱ څخه تر ۳ د داسې شيانو په اړه جملې وليکئ چې تاسو فکر کوی ځانګړي دي. د بيلګې په توګه: خواړه، ژبې، ځانګړي جشنونه، ملي جامې، رقص (ګډا)، حيوانات او داسې نور.<br>د سواد زده کووني توسعه: د خپل هيواد په اړه نور معلومات هم شريک کړئ. د بيلګې په توګه: ستاسو ملي مشر، ملي ګلان، ملي بيرغ، ملي سرود، او داسې نور. |
| ۳۰ دقيقې | شپږمه صفحه: يو څه لويه صفحه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی يې ۲۲ سانتي متره واوسي.<br>• د هغې قارې (لوې وچې) نوم وليکئ چې ستاسو هيواد پکې موقعيت لري. په لويه وچه (قاره) کې د خپل کور د موقعيت (لورې) په پام کې نيولو سره، خپل کور رسم کړئ.<br>لاندې پوښتنې ترسره کړئ: آيا تاسو په دغې لويه وچه (قاره) کې نور هيوادونه هم پيژنی؟ آيا تاسو کولی شی هغه هيوادونه په ګوته کړئ يا نومونه ورته ورکړی؟ آيا تاسو ددغو نورو هيوادونو په اړه نور معلومات لری؟ د بيلګې په توګه: په دغو هيوادونو کې کوم ډول ژوي (حيوانات) اوسيږی؟ آيا کوم مشهور يا لوی تاريخي ځايونه لري؟ آيا په دغې قاره کې کومې لوې طبيعي ځانګړتياوې شته؟ لکه مشهور غرونه، تاريخي ځايونه، سيندونه، دښتې او داسې نور.<br>لاربښوونه: که چيرته تاسو د خپلې قارې د شکل په اړه معلومات نه لری، تاسو کولی شی د خپلې خوښې شکل رسم کړی. د بيلګې په توګه: يوه دايره، يو مثلث شکل، يو مستطيلي شکل او داسې نور.<br>شپږمې صفحې ته نوم غوره کړئ او د خپلې قارې په اړه يو څو جملې پرې وليکئ. مثلا: دا د (..........) کور دی چې په (...........) کوڅه، (...........) ولايت، (...........) هيواد او (...........) لوې وچې يا قارې کې موقعيت لري. د خپلې قارې په اړه له ۱ څخه تر ۳ د داسې شيانو په اړه جملې وليکئ چې تاسو پرې پوهيږی. د بيلګې په توګه: لکه ځينې نور هيوادونه، ځينې طبيعي ځانګړنې، ځينې تاريخې ځانګړتياوې، د قارې لوی والی نسبت نورو قارو ته او داسې نور.<br>د سواد زده کووني توسعه: د خپلې قارې يا لوې وچې په اړه نور توضيحات هم ورکړئ. مثلا د قارې د لوی والي په اړه، کوم بحرونه له دغې قارې چاپيره شتون لري او داسي نور. |

## څلورمه ورځ

نن ورځ به تاسو د نړۍ او لمريز نظام (شمسي نظام) په اړه پوهه ترلاسه کړی.

| وړانديز شوی وخت | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| ۳۰ دقيقې | • اوومه صفحه: يو څه لويه ورقه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی يې ۲۵ سانتي متره واوسي.<br>• هغه ځمکه رسم کړئ چې ستاسو قاره يا لويه وچه پکې موقعيت لري. |

| | |
|---|---|
| | لاندې پوښتنې ترسره کړئ: دا انځور په یوه دوه بعدي شکل باندې رسم کړئ او کوښښ وکړئ چې لوی اقیانوسنه یا بحرونه رسم کړی او آسماني رنګ ورته ورکړئ. او هغه قاره په نښه کړئ چې تاسو پکې اوسیږی.<br>لاربښوونه: له زده کوونکو څخه وغواړئ چې بیلابیلې قارې یا لوې وچې رسم کړي. د بیلګې په توګه: افریقا، آسیا، اروپا، شمالي امریکا، سویلي امریکا، آسټرالیا، انټرکټیکا او همدا راز لوی بحرونه.<br>۷ صفحې ته نوم ورکړئ او د نړۍ په اړه یو څو جملې ولیکئ: د د (...........) کور په (..........) سړک، (..........) ولایت، (.............) هیواد چې د نړۍ په (.............) قاره کې موقعیت لري.<br>د نړۍ په اړه له ۱ څخه تر ۳ د داسې شیانو په اړه جملې ولیکئ چې تاسو پرې پوهیږی: مثلا، ولې نړۍ زرغونه یا آسماني رنګ لري؟ په نړۍ کې کوم عمده نور بحرونه او یا هم ځایونه شتون لري؟ د نړۍ شکل څه رنګ دی؟ او داسې نور.<br>د سواد زده کوونې توسعه: د نړۍ په اړه یو څو نورې تشریحي جملې ولیکئ: مثلا، ځمکه څومره عمر لري؟ د ځمکې څومره برخه اوبو نیولې؟ ځملکه ولې آسماني او یا هم زرغون رنګ لري؟ او داسې نور. |
| **۳۰ دقیقې** | • اتمه صفحه: یو څه لویه ورقه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی یې ۲۷ سانتي متره واوسي.<br>• شمسي نظام د ۸ سیارو سره رسم کړئ. ځمکه پکې په نښه کړئ او نوم یې پرې ولګوئ.<br>لاندې پوښتنې ترسره کړئ: آیا تاسو د نورو سیارو د اندازې په اړه معلومات لری؟ آیا تاسو د هغې د رنګ په اړه معلومات لری؟ آیا تاسو پوهیږی چې کومه سیاره لمر ته ډیره نیږدې ده او کومه سیاره د لمر څخه ډیره لرې ده؟ آیا تاسو پوهیږی چې هره سیاره څو سپوږمۍ لري؟<br>لاربښوونه: د زده کوونکو د مخکنیو مالوماتو پر بنسټ شمسي نظام او سیارې رسم کړئ. تاسو باید د سیارو نومونه هم ولیکی: عطارد، زهره، ځمکه، مریخ، مشتري، زحل، اورانوس، او نیپټون<br>اتمې صفحې ته یو نوم غوره کړئ او د شمسي نظام په اړه یو څو جملې ولیکئ:<br>دا د (...........) کور دی چې په (...........) سړک، (.........) ښار/کلی، (........) هیواد، (........) قاره/لویه وچه چې د ځمکې سیارې او د میلکې وی په شمسي نظام کې موقعیت لري.<br>له ۱ څخه تر ۳ داسې شیان ولیکئ چې تاسو یې د شمسي نظام په اړه پیژنی. دبیلګې په توګه: سیارې، سپوږمۍ، د لمر حرکتونه او داسې نور.<br>د سواد زده کوونې توسعه: که چیرته زده کوونکې نور مالومات ولري، هغوی دې هڅه وکړي چې د شمسي نظام په اړه یو څو تشریحي جملې ولیکي. |

## پینځمه ورځ

نن ورځ به تاسو ټولې ورقې یوځای کړی او خپلو کورنیو ته به یې وښایاست.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۱۰ دقیقې** | • اوس ټولې ۸ ورقې یوځای سره سنجاق کړئ. |

| | |
|---|---|
| | <br> |
| ۱۵ دقیقې | د خپل کتاب په اوله صفحه (پوښ) باندې خپله پته ولیکئ چې لاندې نقطې په کې موجودې وي:<br>- نوم<br>- کور<br>- کوڅه<br>- منطقه/ښار/کلی<br>- ایالت<br>- هیواد<br>- قاره (لویه وچه)<br>- سیاره<br>- لمریز نظام (شمسي نظام) |
| | د کتاب لپاره داسې یو نوم (عنوان) وټاکئ چې ستاسو په اند مناسب وي. همدا راز په کتاب باندې د لیکوال او د توضیح ورکوونکي نومونه (خپل نومونه) ولیکئ. |
| ۱۰ دقیقې | هغه کتاب چې تاسو جوړ کړی دی د خپلو کورنیو سره شریک کړئ او ورې لولئ ترڅو هغوی په شمسي نظام کې د خپل ځای (مکان) په اړه تاسو سره خپل نظر شریک کړي. |
| ۱۰ دقیقې | ددې په اړه فکر وکړئ چې آیا تاسو په شمسي نظام (لمریز نظام) کې خپل ځای (مکان) پیژنئ. د خپل اند په اړه یو داسې چارټ جوړ کړئ چې دوه کالمه (خانې) ولري. په یو کالم کې د هغه څه په اړه چې تاسو زده کړي دي ولیکئ او په بل کالم کې د هغه څه په اړه لیکل وکړئ چې تاسو یې په تعجب کړي یاست. |

## د ارزونې معیارونه

د ټولو هغو بیلابیلو ځایونو د شکلونو په اړه پوهاوی چې زده کوونکي په کې اوسیږي.

## د آسانه کوولو لپاره بدلونونه

زده کوونکي به د کور، کوڅې، سړک، ښار، ایالت او یا هم د قارې (لوې وچې) په اړه فکر وکړي او د دوی اړینې ځانګړتیاوې به تشریح کړي.